
قرآن
او
د وړې نجلۍ نکاح
د جبري ودونو بدي پايلي
د عائشې رضي الله عنها د نکاح اړوند ناسم روايات
حکمتيار

# قرآن

# او

# د ورې نجلۍ نکاح

# د اجباري نکاح بدي پايلي

# د عائشې رضي الله عنها د نکاح اړوند ناسم روايات

حکمتيار

**فهرست**


| عنوان | صفحه |
| --- | --- |
| **مقدمه** | ٤ |
| **قرآن او د نكاح د صحت شرائط** | ٧ |
| د عائشې رضي الله عنها د ازدواج په اړه د فتنې باعث روايت | ١٥ |
| د ماشومې نجلۍ نكاح او د يوه آيت ناسم تفسير او تعبير | ١٩ |
| د نابالغ نكاح او اړوند روايات ئې | ٢٤ |
| د عائشې رضي الله عنها خلاف د تورونو او تبليغاتو وجوهات | ٣٥ |

## بسم اللّٰه الرحمٰن الرحيم

## مقدمه

په دې ورځو کې يوه بله فتوی او سرکاري فرمان په ډېرو نيوکو او تبليغاتو استقبال شو، خبره د ملگرو ملتونو او نړۍ والو بشري حقونو تنظيمونو تر جدي غندنې او اعتراض پورې ورسېده او د اسلام دښمنانو د اسلام په خلاف د يوې تبليغاتي وسيلې په توگه ترې پراخه استفاده وکړه؛ له دې فتوی داسې معلومېده چې د وړو او کم عمره نجونو نکاح جائزه ده، سرکاري مفتيانو هغه د حنفي مذهب مطابق عمل گڼلو او د حکومت وياندويانو ويل چې موږ پر خپل مذهب عمل کوو!! ما وغوښتل چې په دې اړه يوه لنډه ليکنه ولرم؛ د قرآن هغه صريح او څرگند آيت د لوستونکو مخې ته کښېږدم چې د نکاح صحت ئې له جسمي پلوه په ځوانۍ او پېغلتوب (بلوغ) او له معنوي او فکري پلوه په رشد (د عقل پوخوالي) سره تړلی؛ او د رسول الله صلی الله عليه و سلم هغه لارښوونه ورپه ياد کړم چې فرمايي: د کونډې او پېغلې نکاح يوازې هغه مهال صحيح ده چې مشوره ورسره شوې وي او پرې راضي وي؛ او دا چې اسلامي شريعت د نکاح د صحت لپاره د (ايجاب) او (قبول) اساسي شرط تر څنگ د مَهر او لږ تر لږه دوه شاهدانو حضور ضروري گڼلی؛ د دې صريح لارښونو او احکامو په شتون کې څنگه څوك دا جسارت کوي چې د نابالغ ماشوم او د جبر او زور نکاح جائز گڼي؟!

ليکنه مي ځينو په دين پوه دوستانو ته د ملاحظاتو او مشورو لپاره ولېږله؛ د هغوی مشورو او د موضوع اهميت ته په پام سره دې ته اړ شوم چې لږ تفصيلي بحث پرې وکړم؛ په همدې مودې کې مي له ځينو د دريو داسې پېښو قصې واورېدې چې د موضوع تفصيلي څېړنې ته ئې وهڅولم: ۱- د خيبر پختونخوا صوبه کې يوه پښتنه نجلۍ د خپلې کورنۍ له لوري د دې له خوښې او موافقې پرته داسې چا ته واده شوې وه چې دې نه غوښتل، نه د نورو په څېر په تېښتې بريالۍ شوې وه او نه په ځان وژنې، په پای کې ئې

پرېکړه کړې چې خاوند ته زهر ورکړي، زهر ئې د شړومبي په ګيلاس کې اچولي، خاوند ئې بهر معطل شوی، نو نجلۍ دا ګيلاس په يخچال کې ايښی، خاوند ئې داسي مهال کور ته راغلی چې د کورنۍ ټول غړي پر دسترخان راغونډ دي، د ټولو لپاره شړومبی هم تيار شوی، چا په ناپوهۍ سره د هغه ګيلاس شړومبی هم په دې کې ګډ کړی، د نجلۍ خاوند، خسر، خواښې، دوو لېورونو، او لس تنه نورو چې اته ئې ماشومان ول، دا شړومبی څښلی، ۱۵ مړه او درې روغتون ته انتقال شوي؛ د دې دردناکې پېښي ستر او اساسي عامل د جبر او زور نکاح ده. ۲- دوهمه پېښه په پکتيا کې رامنځته شوې؛ همداسي يوه نجلۍ د دې له خوښي او رضايت پرته چا ته ورکړی شوې وه؛ تر واده وړاندي د خپلي خوښي له کس سره وتښتېده؛ کورنۍ ئې په موندلو او کور ته په راستنولو بريالۍ نه شوه؛ له کومي لاري توانېدلي چې نجلۍ ته احوال ولېږي او ورته ووايي: که کور ته راستنه شي نو په پتمنه توګه او له درنښت سره به د خپلي خوښي له هلك سره د دې واده تر سره شي؛ دې هم باور کړی او کور ته ستنه شوې؛ خو کورنۍ ئې دا او هغه هلك دواړه ووژل؛ ۳- درېيمه پېښه په هزاره کورنۍ پوري تړلې ده؛ همداسي يوه نجلۍ په جبر او اکراه سره داسي چا ته واده شوې چې دې کرکه ترې درلوده، تر پايه نه ده توانېدلې چې مور او پلار قانع کړي او د دې اجباري واده مخنيوی وکړي؛ واده تر سره شوی، له دود سره سم ناوې پر تيار شوي آس سپره کړی شوې، د آس مهار د خاوند په لاس کې د پلار له کوره له ورا سره روان شوي؛ د خسر کور ته په رسېدو او کله چې غواړي ناوې له آس کوزه کړي متوجه شوي چې هغې پور پرې کړی او مړه شوې؛ وروسته معلومه شوې چې هغې زهر خوړلي وو.

له دې پېښو معلومېږي چې اجباري ودونه څومره ډېر شوي او پايلي ئې څومره بدغونې او مرګونې؛ وجه ئې جهالت او له ديني لارښوونو بې خبري او د اړوند بدو پېښو مسئوليت ئې د هغو ملايانو او مفتيانو پر غاړه چې هم د زور او جبر نکاح جائز ګڼي او هم د وړې ماشومي او ماشوم نکاح. په داسي حال کې چې قرآن د نکاح لپاره بلوغ او رشد د اساسي شرط په توګه ټاکلی او د جبر نکاح ئې پر الله تعالی او آخرت د ايمان منافي عمل ګڼلی او رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي: کونډه او پېغله د دوی له خوښي او رضايت پرته نه شي نکاح کېدی، هغه نکاح ئې فسخه کړې چې د نجلۍ

له موافقې او رضایت پرته تر سره شوې.

هیله من یم په دې لیکنې سره مې د خپلو ایماني مسئولیتونو، د دعوت الی الخیر، امر بالمعروف او نهي عن المنکر وجائبو یوه برخه اداء کړې وي؛ دعاء کوم چې الله تعالی اسلامي امت ته په عامه توګه او افغانانو ته په خاصه توګه دا توفیق ورکړي چې د دغو فتنو او اسلام ضد کړنو او غلطو فتوی ګانو خلاف په اغېزمن جهاد لاس پوري کړي، هم ئې له بدو پایلو خپل ځان او خپله کورنۍ وژغوري او هم ټول مظلوم اسلامي امت. آمین

حکمتیار

بسم اللّٰه الرحمٰن الرحیم

# قرآن او د نکاح د صحت شرائط

آیا د نکاح د صحت لپاره اساسي شرط بلوغ (ځواني او پېغلتوب) دئ او که د وړې نجلۍ نکاح هم جائزه ده؟

په نکاح کې د ایجاب او قبول شرط څه معنی لري؟ آیا دا شرط د وړو او نابالغو له نکاح سره تعارض نه لري؟

هغه څه ته چي مو بلوغ وایو؛ قرآن دا حالت په کومه صیغه یاد کړی؟ آیا د قرآن په لارښوونو کې داسي څه شته چي د هر بالغ نکاح صحیح ګڼي که څه هم د عقل او درایت له پلوه دومره کمزوری وي چي نشي کولی یوه روغه کورنۍ جوړه او مدیریت کړي؟

که له جنسي پلوه د معذور انسان نکاح شرعي اشکال لري نو له عقلي پلوه د معذور نکاح به څنګه صحیح وي؟

آیا د هر مالي او اجتماعي عقد او تړون د صحت لپاره د اړوند لوریو رضایت او موافقه اساسي شرط نه دئ؟ که داسي وي نو بیا د ماشوم عقد څنګه جائز ګڼل شو؟

قرآن ولي د نکاح کوونکو نارینه وو لپاره د محصِنین او د نکاح کېدونکو مېرمنو لپاره د محصَنات صیغې غوره کړې او کارولې دي؟ او د دې تعبیر معنی څه ده؟

دا هغه پوښتني دي چي دقیق ځوابونه ئې له مونږ سره مرسته کوي د اسلام له نظره د نکاح په حقیقت پوه شو.

د دوو انسانانو تر منځ د نکاح تړون دومره مهم او ارزښتناك دئ چي بل هیڅ تړون ورسره برابري نشي کولی؛ په دې سره کولی شو د یوې داسي رغنده او سلیمي کورنۍ بنسټ کښېږدو چي د ستري انساني ټولني سلامتیا تضمین او تأمین کړي؛ کورنۍ د ستري انساني ټولني د ماڼۍ لومړنۍ اساسي خښته ده؛ که ورانه او کږه کېښودل شوه د ټولي ماڼۍ د نسکورېدو سبب

کېږي؛ اسلام د نکاح تړون ته په دومره درنه سترګه ګوري او اهمیت ورکوي چي رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايي: د شیطان له نظره تر ټولو غوره او مهم شیطاني کار دا دئ چي د دوو انسانانو تر منځ دغه تړون وشلېږي؛ دا موضوع د یوه مثال په ترڅ کي داسي انځوروي:

عَنْ جَابِرٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "إِنَّ إِبْلِيسَ يَضَعُ عَرْشَهُ عَلَى الْمَاءِ، ثُمَّ يَبْعَثُ سَرَايَاهُ، (وفي رواية: فَيَفْتِنُونَ النَّاسَ) فَأَدْنَاهُمْ مِنْهُ مَنْزِلَةً أَعْظَمُهُمْ فِتْنَةً، يَجِيءُ أَحَدُهُمْ، فَيَقُولُ: فَعَلْتُ كَذَا وَكَذَا، فَيَقُولُ: مَا صَنَعْتَ شَيْئًا، قَالَ: وَيَجِيءُ أَحَدُهُمْ، فَيَقُولُ: مَا تَرَكْتُهُ حَتَّى فَرَّقْتُ بَيْنَهُ وَبَيْنَ أَهْلِهِ، قَالَ: فَيُدْنِيهِ مِنْهُ وَيَقُولُ: نِعْمَ أَنْتَ أَنْتَ " مسند احمد

له جابر رضي الله عنه روايت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل: ابلیس خپل تخت پر اوبو کښېږدي، بیا خپل ټولګي (په خلکو کي د فتنو خورولو لپاره) ولېږي، نو ده ته تر ټولو ډېر نژدې هغه وي چي تر ټولو ئې ستره فتنه رامنځته کړې وي، یو ورته راشي او ووايي: دا او دا کارونه مي وکړل؛ دی ووايي: هیڅ څه دي نه دي کړي؛ بیا ئې وفرمایل: او یو بل ئې راشي او ووايي: تر هغه مي پرېنښود چي د ده او مېرمني تر منځ مې بېلوالی راوست؛ وئې فرمایل: نو ځان ته ئې نژدې کړي (او په غېږ کي ئې ونیسي) او ووايي: همدا ته ډېر ښه يې؟

یعني؛ ابلیس؛ د شیطانانو سالار ته؛ تر زنا، غلا، شراب او قمار او نورو سترو ګناهونو؛ هغه فتنه ډېره ارزښناکه او مهمه برېښي چي د یوې کورنۍ په شړېدو او ړنګېدو منتج شي او یوه مېرمن له خپل مېړه بېله کړی شي. دا ځکه چي روغه او سلیمه کورنۍ روغه ټولنه رامنځته کوي او د کورنۍ شړېدا د ټولني په شړېدا منتج کېږي، کورنۍ د اولاد د روزني، تربیت او له فساد او فتنو د ساتني مصون او خوندي مدرسه او سنګر ده؛ په ورانېدا سره ئې ټولنه ورانېږي، هومره چي سالمه او روغه کورنۍ د طرفینو جنسي سلامتیا او وړتیا ته ضرورت لري؛ تر دې زیات او وړاندي عقلي، اخلاقي او معنوي روغتیا او وړتیا ته او د قرآن په اصطلاح رشد ته ضرورت لري.

اسلام نکاح ته د داسي تعهد او تړون په سترګه ګوري چي د دوو انسانانو

(نر او ښځي) تر منځ د يوه نوي ګډ ژوند بنسټ ږدي، نوې کورنۍ رامنځته کوي، د نسل د دوام شرائط برابروي، اولاد ته د پالني او روزنې مصون او خوندي چاپېريال او غېږ جوړوي، د انسان هغه جنسي اړتيا له قانوني، فطري او صفا لاري رفع کوي چي که په قانوني او سمه توګه مهار نشي فتنې زېږوي، په دې نکاح سره دواړه لوري په خپلو کي ژمنه کوي چي د ژوند په سفر کي به څنګ په څنګ وړاندي درومي، په ملګرتيا کي به ئې وفا، اخلاص، مينه او صداقت وي، د يوه غېږ به د بل لپاره داسي پناه ځی وي چي د جنسي انحراف په شمول ئې له ډېرو ناخوالو ساتي، اسلام په نکاح کي د جانبينو د توافق او صادقانه تعهد او ژمني تر څنګ دا هم ضروري ګڼي چي نکاح د جانبينو د کورنيو او اولياءو په رضايت او توافق ترسره شي، موخه ئې د اولاد درلودل او د يوې نوې کورنۍ جوړول وي، د نکاح ژمنه او تړون قانوني او ځرګند وي، نور هم پرې خبر شي، د دې لپاره ئې د وليمې په نامه محفل جوړول او خلك ورته رابلل غوره دود ګڼلی او حتی د دريا وهلو اجازه ئې ورکړې، او دا ټول د دې لپاره چي نور خلك هم له دې تړون او ژمني خبر شي، له دې ځرګندي نکاح وروسته د ټولني هر غړی ئې درناوی وکړي او په دې اړه قانوني پولي داسي مراعات کړي او له ړنګولو او تر پښو لاندي کولو ئې ډډه وکړي لکه چي د نورو ملکيتونو په اړه خپل او د بل حد مراعاتوي او له قانوني پولو اوښتل تېری او تجاوز ګڼي.

اسلام وايي: نکاح به د اولاد درلودو په موخه وي نه د جنسي غريزې د اشباع په موخه؛ نکاح کوونکي به محصِنين او محصَنات (د نکاح تړون په محدوده کي پاته کېدونکي)، نه مسافحين او مسافحات (هوسپال). د همدې لپاره قرآن د نکاح کوونکو لپاره د محصِنين او د نکاح کېدونکو مېرمنو لپاره د محصَنات صيغه غوره کړې؛ دا صيغې له حصن اخيستل شوې؛ د حِصن معنی مضبوطه کلا ده؛ نو د محصِن معنی په مضبوطه کلا کي د خپلي کورنۍ ساتونکی او د محصَنات معنی په مضبوطي کلا کي ساتل شوې ده. يعنی نکاح ته د مضبوطي کلا په سترګه کتل شوي، په دې سره مېړه او مېرمن په يوه مضبوط او کلك تړون سره د يوه نوي او کلك کور بنسټ ږدي؛ هدف ئې د نسل دوام او د اولاد درلودل دي؛ تړون ئې نه سست دئ، نه لنډ او موقتي؛ او نه د جنسي غريزې موقته اشباع؛ د قرآن دا فقره په ډېر حکيمانه ډول

همدا مطلب زموږ مخې ته ږدي چې فرمايي:

وَمَن لَّمۡ يَسۡتَطِعۡ مِنكُمۡ طَوۡلًا أَن يَنكِحَ ٱلۡمُحۡصَنَٰتِ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِ فَمِن مَّا مَلَكَتۡ أَيۡمَٰنُكُم مِّن فَتَيَٰتِكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتِۚ وَٱللَّهُ أَعۡلَمُ بِإِيمَٰنِكُمۚ بَعۡضُكُم مِّنۢ بَعۡضٖۚ فَٱنكِحُوهُنَّ بِإِذۡنِ أَهۡلِهِنَّ وَءَاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ بِٱلۡمَعۡرُوفِ مُحۡصَنَٰتٍ غَيۡرَ مُسَٰفِحَٰتٖ وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخۡدَانٖۚ .... ﴿٢٥﴾ النساء

او ستاسو هغه څوك چې د شتمنۍ له پلوه هومره توان نه لري چې نكاح كېدونكې مؤمنې مېرمنې ځان ته په نكاح كړي نو بيا دي په خپل واك كې له باايمانه وينځو (څوك په نكاح كړي) او الله ستاسو په ايمان ښه پوه دئ، تاسو يو له بل يئ، نو د خپلو خاوندانو په اجازه ئې په نكاح كړئ او مهر ئې په ښه توګه وركړئ، د نكاح په حصار كې راتلونكې، نه زنا كوونكې او نه په پټه يار نيونكې،...

دلته د هغه چا په اړه ارشادات شوي چې له مالي لحاظه كمزورى دئ، نه د آزادي ښځې د مهر توان لري او نه ئې د خرڅ، خوراك او پوښاك؛ د دوى په اړه دا لارښووني شوې:

- له با ايمانه وينځو دي څوك په نكاح كړي.
- چې ظاهر ئې د مؤمني وي او مؤمن ئې خوښېږي، په همدې اكتفاء وكړئ، د زړه په كيفيت خو له الله تعالى پرته بل څوك نه پوهېږي.
- دا د عار كار مه ګڼئ، وينځه هم ستاسو په شان انسان ده.
- د مالك په اجازه به ورسره نكاح كوئ.
- د معمول مطابق مهر به ئې وركوئ.
- دا به د نكاح په قيد كې د راتلو په موخه په نكاح كېږي.
- نكاح به د جنسي غريزې د اشباع لپاره يو موقت او لنډ مهاله تړون نه وي. داسي نه چې د قانوني زنا بڼه غوره كړي.
- دا به يو څرګند سپېڅلى تړون وي، نه د كوم پټ يار نيولو په څېر معامله.

بايد متوجه وو چې دلته څو الفاظ د خاصو مطالبو د بيان لپاره كارول شوي: ١- اجور د مَهر لپاره غوره شوې، په ټولو هغو آيتونو كې چې د نكاح په ارتباط د (اجور) صيغه كارول شوې په ټولو كې ئې معنى فقط او فقط

مهر دئ نه بل څه؛ په ټولو شپږو آیتونو کې همدا صیغه د مهر په معنی راغلې؛ هغه چې د اجور صیغه له مهر پرته د موقتي نکاح د بدلې او معاوضې په معنی نیسي؛ هغوی د ډېر کرکجن تحریف جسارت کوي. دا ځکه چې قرآن په همدې رابطه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته داسي لارښوونه کوي:

يَـٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِنَّآ أَحْلَلْنَا لَكَ أَزْوَٰجَكَ ٱلَّـٰتِيٓ ءَاتَيْتَ أُجُورَهُنَّ ... ﴿٥٠﴾ الأحزاب

ای پیغمبره! هغه مېرمني مو تا ته حلالي کړې چې اجور (مهرونه) دې ورکړي.

او د مؤمنانو په اړه فرمايي:

.... فَـَٔاتُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ فَرِيضَةً .... ﴿٢٤﴾ النساء

.... نو اجور (مهرونه) ئې د يوې فريضې په توګه ورکړئ.

٢- په نکاح کېدونکې مېرمني د محصَنات په صیغه یادي شوې؛ او دا په بشپړ وضاحت او په پرېکنده توګه ښيي چې نکاح به ئې نه لنډه وي او نه سسته؛

٣- په (غَيْرَ مُسَٰفِحَٰتٍ) سره د دې مزید وضاحت شوی چې دا نکاح به د جنسي غریزې د موقتي اشباع لپاره هم نه وي. ٤- په (وَلَا مُتَّخِذَٰتِ أَخْدَانٍ) سره ویل شوي چې دا به د پټې یارانې په ډول هم نه وي.

په نکاح کې دا شرائط یوازې د مېرمنو لپاره نه دي وضع شوي بلکې د نارینه وو په اړه هم وضع شوي؛ هلته چې قرآن فرمايي:

ٱلْيَوْمَ أُحِلَّ لَكُمُ ٱلطَّيِّبَٰتُ ۖ وَطَعَامُ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ حِلٌّ لَّكُمْ وَطَعَامُكُمْ حِلٌّ لَّهُمْ ۖ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلْمُؤْمِنَٰتِ وَٱلْمُحْصَنَٰتُ مِنَ ٱلَّذِينَ أُوتُوا۟ ٱلْكِتَٰبَ مِن قَبْلِكُمْ إِذَآ ءَاتَيْتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّ مُحْصِنِينَ غَيْرَ مُسَٰفِحِينَ وَلَا مُتَّخِذِيٓ أَخْدَانٍ ۗ .... ﴿٥﴾ المائدة

په آیت کې ویل شوي: (نن ټول پاکیزه شیان درته حلال کړی شوي او د اهل کتاب طعام تاسو ته حلال دئ او ستاسو طعام دوی ته حلال دئ او له مؤمنانو پاك لمني ښځې هم او له هغو خلکو پاك لمني ښځې هم درته حلالي دي چې له تاسو مخکې کتاب ورکړی شوی، په دې شرط چې ١- مهر ئې

ورکړئ؛ ۲- په داسي حال کي چي نکاح کوونکي به وئ ۳- نه زنا کوونکي ٤- او نه د پټي معشوقې او محبوبې نيوونکي.

په دې مبارك آيت کي حل او حرمت ته له يوه بل پلوه اشاره شوې او هغه دا چي دا د مؤمن د لاس دي او که د غير مؤمن د لاس؛ په دې اړه څو لارښووني شوې:

- نن ټول پاکيزه شيان درته حلال شول.
- د اهل کتاب پاکيزه طعام هم درته حلال دئ.
- ستاسو طعام دوی ته حلال دئ، تاسو ته دا اجازه درکړی شوې چي هغوی ته طعام ورکړئ.
- لکه څنګه چي د مسلمانو ښځو نکاح درته روا ده؛ د اهل کتاب د پاك لمنو هغو ښځو نکاح هم درته روا ده چي د نکاح په مضبوط تړون سره غواړي له تاسو سره ګډه کورنۍ جوړه کړي؛ خو په څو شرطونو: ۱- مهر ئې ورکړئ. ۲- په خپلي نکاح کي د دوی د ساتلو په موخه ئې په نکاح کړئ؛ نه د دې لپاره چي څو ورځي خپل جنسي اړتيا رفع کړئ او نه داسي چي دا نکاح مو پټي يارانې ته ورته وي. ۳- دې ته مو پام وي چي دا نکاح تاسو کفر ته متمايل نه کړي، پام کوئ چي د اهل کتاب داسي ښځي په نکاح نه کړئ چي ستاسو ايمان ته تاوان رسوي او ستاسو آخرت تباه کوي.

ډېره ډېره عجيبه ده چي څوك په قرآن ايمان لري، دا څرګند آيتونه ئې هم ليدلي او لوستلي وي او په معنی ئې هم پوه شوي وي خو بيا هم د موقتي نکاح او د ماشوم د نکاح د جواز خبره کوي!! حيف د هغو پر حال چي دا غلطي خبري کوي او سل حيف د هغو پر حال چي دا د قرآن، عقل او انساني فطرت خلاف خبري مني!!

هو؛ مور او پلار پر خپل اولاد ډېر حقوق لري؛ خو د څو کارونو حق نه دئ ورکړی شوی: ۱- پلار او مور نه د خپل اولاد د وژلو حق لري، که دا وژل ئې د لوږي او فقر له کبله وي او يا د فقر له احتمالي وېري وي؛ ۲- نه ئې د پلورلو حق لري؛ ۳- او نه په زور او له رضايت او موافقې پرته واده کولو؛ په ځوانۍ او پېغلتوب کي هم او تر دې وړاندي هم؛ که د اولاد په ځوانۍ او پېغلتوب کي دا کار نه شي کولی نو په ماشومتوب کي خو ئې په اولی درجه د کولو حق نه لري.

د وړو ماشومانو نکاح هم د فطرت خلاف عمل دئ، هم د قرآن د څرگندي لارښووني خلاف چي رشد ئې د نکاح د صحت لپاره شرط گڼلی او هم د هغه هدف خلاف چي قرآن د نکاح لپاره ټاکلی؛ (چي د اولاد درلودل دي)، هم د هلك او نجلۍ په اړه جفا او ظلم دئ او هم د هغوی له ژوند سره لوبې. د خپلي خوښي خلاف او د زور نکاح بدي پایلي لري؛ که په زور د هر چا او مخصوصاً د یتیم مال خوړل حرام وي؛ نو د ماشوم او په ځانگړې توگه د یتیم دا حق او اختیار ترې سلبول چي د خپلي خوښي د ټول ژوند همسفر انتخاب کړي؛ سل ځله د مال تر غصب؛ ستر جرم او ظلم دئ؛ قرآن په دې اړه فرمايي:

وَإِذَا طَلَّقْتُمُ ٱلنِّسَآءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ أَن يَنكِحْنَ أَزْوَٰجَهُنَّ إِذَا تَرَٰضَوْا۟ بَيْنَهُم بِٱلْمَعْرُوفِ ۗ ذَٰلِكَ يُوعَظُ بِهِۦ مَن كَانَ مِنكُمْ يُؤْمِنُ بِٱللَّهِ وَٱلْيَوْمِ ٱلْءَاخِرِ ۗ ذَٰلِكُمْ أَزْكَىٰ لَكُمْ وَأَطْهَرُ ۚ وَٱللَّهُ يَعْلَمُ وَأَنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴿٢٣٢﴾ البقرة

او کله چي مو مېرمنو ته طلاق ورکړ او دوی د خپل عدت پای ته ورسېدې؛ نو دوی له دې مه راگرځوئ چي د خپلي خوښي مېړه سره نکاح وکړي؛ که په ښه توگه په خپلو کې سره راضي شوي وي؛ په دې سره ستاسو هغه چا ته پند ورکول کېږي چي په الله او د آخرت په ورځ ایمان لري؛ دا درته غوره او د تزکیې او پاکۍ سبب ده او الله پوهېږي او تاسو نه پوهېږئ.

يعني طلاقي شوې ښځي د خپلي خوښي له مېړه سره له نکاح مه منع کوئ؛ که دا د دې پخوانی مېړه وي او که نوی؛ نه ئې د کورنۍ غړي باید دا کار وکړي او نه ئې پخوانی مېړه؛ په ټولني کې د اخلاقي مفاسدو د مخنیوي لپاره همدا طریقه تر ټولو غوره ده چي پرېږدئ دا کونډې د خپلي خوښي له مېړه سره نکاح وکړي؛ دا کار د الله په دین کې هم (ازکی) دئ هم (اطهر): هم غوره دئ او هم له اخلاقي پلوه د تزکیې او پاکیزگۍ سبب؛ په زور نکاح کول او د خپلي خوښي له خاوند سره د دوی له نکاح مخنیوی؛ هم پر الله تعالی او د آخرت په ورځي د ایمان منافي عمل دئ او هم په ټولني کې د فتنو او اخلاقي مفاسدو باعث او عامل.

اسلام له یوې خوا د کونډې اولیاءو ته ویلي چي هغه د خپلي خوښي له خاوند سره له نکاح مه منع کوئ؛ خو له بلې خوا ئې ښځه په دې مکلفه کړې

چي د نکاح په اړه د خپل ولي رضايت په پام کې ولري؛ دا د دې لپاره چي نکاح د کورنيو تر منځ د نژدې والي سبب شي نه د دښمنۍ او نفرت سبب.

په دې اړه دوه اساسي خبري بايد په پام کې ولرو:

- د ښځي اولياء بايد خپله خوښه پر هغې تحميل نه کړي؛ له بې ځايه ځورولو او تنگولو ئې ډډه وکړي؛ هغه دي پرېږدي چي د خپلي خوښي له کس سره نکاح وکړي؛ دا هم په خداى او آخرت د ايمان غوښتنه او تقاضى ښودل شوې او هم له اخلاقي فساد د مخنيوي ذريعه.
- ښځه بايد په پټه او د اولياءو په غياب کې دا کار ونکړي؛ له دې فتنې راولاړېږي؛ د کورنيو تر منځ کرکه او نفرت راپيدا کوي.

لاندي روايت دغه قضيه توضيح کوي:

عَنْ قَتَادَةَ عن الْحَسَنِ أَنَّ مَعْقِلَ بْنَ يَسَارٍ كَانَتْ أُخْتُهُ تَحْتَ رَجُلٍ فَطَلَّقَهَا ثُمَّ خَلَّى عَنْهَا حَتَّى انْقَضَتْ عِدَّتُهَا ثُمَّ خَطَبَهَا فَحَمِيَ مَعْقِلٌ مِنْ ذَلِكَ أَنَفًا فَقَالَ خَلَّى عَنْهَا وَهُوَ يَقْدِرُ عَلَيْهَا ثُمَّ يَخْطُبُهَا فَحَالَ بَيْنَهُ وَبَيْنَهَا فَأَنْزَلَ اللَّهُ { وَإِذَا طَلَّقْتُمْ النِّسَاءَ فَبَلَغْنَ أَجَلَهُنَّ فَلَا تَعْضُلُوهُنَّ } إِلَى آخِرِ الْآيَةِ؛ فَدَعَاهُ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَرَأَ عَلَيْهِ فَتَرَكَ الْحَمِيَّةَ وَاسْتَقَادَ لِأَمْرِ اللَّهِ. رواه البخارى

قتاده له حسن روايت کوي چي د معقل بن يسار خور د يوه سړي په نکاح کې وه، هغه طلاق ورکړ، بيا ترې بېل شو تر هغه چي عدت ئې تېر شو، (خو په خپل کار پښېمانه شو)؛ د بيا نکاح پيغام ئې ورولېږو، (دا هم راضي شوه)؛ خو معقل ته ننگ ورغى او وئې ويل: له هغې ئې لاس واخيست په داسي حال کې چي پرې برلاسى وو؛ اوس ئې بيا پيغام ورلېږلی؛ نو د دوی دواړو تر منځ خنډ او حائل شو؛ بيا په همدې ارتباط الله تعالى دا آيت نازل کړ: کله چي ښځو ته طلاق ورکړئ او هغوی د عدت بشپړوالي نېټې ته ورسېږي؛ نو له دې ئې په زور مه راستنوئ چي له خپلو مخکينيو خاوندانو سره نکاح وکړي... نو رسول الله صلى الله عليه و سلم دا آيت ورته ووايو؛ په همدې سره هغه بې ځايه ننگ او حميت پرېښود او د الله امر ته ئې غاړه

کښېښوده.

په دې خبري د هغه چا اعتراض ډېر بې بنسټه او غلط دئ چې وايي په نکاح کې د مور او پلار، ولي او پالونکي موافقه د ښځي د بشري حقوقو خلاف شرط دئ!! هغوي نه پوهېږي چې دا موافقه څومره اهميت لري او له عدم مراعات ئې څومره ستونزي راولاړېږي. هومره چې مور او پلار د خپلي لور مستقبل په پام کې ساتي او د خپلو تجربو له مخي هغې ته سمه لار ښودلی شي او ښه مشوره ورکولی شي، په خپله دا ئې نه شي کولی؛ دا خو نه د مور پلار په اندازه تجربه لري او نه معرفت، ډېر ځله داسي واقع کېږي چې هغه د جذباتو او احساساتو له مخي فيصله وکړي، د چا حسن، لباس او ظاهري وضع ئې تر اغېز لاندي راولي، جذباتي فيصلې ته ئې وهڅوي، خو مور پلار ئې ډېرو نورو اړخونو ته هم توجه کوي او د خپلي لور مستقبل او ښه ژوند په پام کې نيسي.

په داسي حال کې چې اسلام د ښځي موافقه د نکاح لپاره اساسي شرط ګڼلی، نو د داسي بې بنسټه اعتراض لپاره څه مجال پاته کېږي. دا جنابان دې ته تيار نه دي چې کومه وزه او سيرلۍ ئې د بل له سيرلي سره په خپل سر ولاړه شي؛ بل ته څنګه وايي چې ستا لور کولی شي له هغه چا سره په خپل سر او ستا له خبرولو پرته ولاړه شي چې ته ئې ورته مناسب نه ګڼې!! ولي دې موضوع ته له دې اړخ نه ګورو چې مور او پلار هم او زوی او لور ئې هم؛ بايد د مشورې، تفاهم، اقناع او استدلال لار غوره کړي؛ نه د زور او ګواښ لار. په هر صورت کې به د وروستۍ پرېکړي اختيار زوی او لور ته ورکول کېږي.

## د عائشې رضي الله عنها د ازدواج په اړه د فتنې باعث روايت

د موضوعي، جعلي، غيرمؤثق، د سند له پلوه غريب او ضعيف او د متن له پلوه د قرآن خلاف رواياتو آفت او فتنه؛ هغه ستره المیه او مصيبت وو چې اسلام او امت ته ئې بې ساري ستونزي زېږولې او په تېرو ١٤ پېړيو کې د اسلام دښمنانو له هغه ډېره پراخه تبليغاتي استفاده کړې؛ دې رواياتو هم د اسلام عقيدوي حريم او اصول تر ګوزارونو لاندي نيولي، توحيد او شرک؛ خدای پالنه او شخص لمانځنه، په عبادت، دعاء او استعانت کې د الله تعالی

لپاره شريك او ځای ناستي ټاکل، الله تعالی ته مختص صفات پیر او مرشد ته منسوبول او الله تعالی په انساني صفاتو ستايل؛ همدې جعلي رواياتو رامنځته کړې؛ په معاملاتو او اجتماعي چارو کې ربا (سود) ته جواز موندل، د ووړو نجونو نکاح جائز ګڼل، د زور حکومتونو ته مشروعيت ورکول، د مستبدو حکامو اطاعت فرض ګڼل، له شورى او له ولس سره له مشورې ئې لوړ او معاف بڼودل، په بيت المال کې د هر خپلسري تصرف واك ورکول او مخالفت ته ئې د بغاوت په سترګه کتل، ... دا ټول انحرافات له همدغو جعلي او موضوعي رواياتو زېږېدلي.

الله تعالی دي زړه سواندو محدثينو ته ډېر ډېر اجرونه ورکړي چي په ډېر جرأت او بشپړ انهماك سره ئې په لکونو روايات وچڼل او تر ډېره حده ئې موضوعي او له ځانه جوړ شوي روايات تشخيص او حذف کړل، که دوی دا کار نه وی کړی خدای خبر چي امت به له څومره لانجو سره مخامخ شوی وو؛

الحمد لله چي د قرآن په څېر داسي د حق پېژندو دقيق او کامل معيار په واك کي لرو چي په بشپړ امانت سره له رسول الله صلى الله عليه و سلم او د صحابه وو په بشپړي اجماع سره موږ ته رارسېدلی؛ داسي چي کولی شو په رڼا کي ئې صحيح روايت له ضعيف او ناسم تفکيك کړو. راشئ په دغي موضوع لږ بحث ولرو او وګورو چي په دغسي ضعيفو رواياتو کي د ماشومانو او نابالغو د نکاح په اړه څه راغلي؟ دا مو وڅېړله چي قرآن په دې اړه څه ويلي؟ اوس وګورو چي په رواياتو کي څه ويل شوي؟ حقيقت څه دئ؟ عقل او علم څه وايي؟

لومړی پوښتنه دا ده: آيا په قرآن کي د نکاح د مناسب وخت؛ او د نکاح د دواړو لوريو د عمر په اړه څه ويل شوي؟ آيا د نکاح د موخي او هدف په ارتباط په قرآن کي داسي لارښووني مومو چي بايد په پام کي ونيول شي؟ آيا قرآن د نکاح د صحت لپاره د طرفينو عمر، ځواني او پېغلتوب ته رسېدا شرط ګڼلی که رشد، د عقل پوخوالی او درايت؟

د دغو پوښتنو مختصر او مجمل ځواب دا دئ: هو؛ قرآن د دغو ټولو پوښتنو دقيق او واضح ځواب ويلی. دې آيت ته ځير شئ:

وَابْتَلُوا الْيَتَامَى حَتَّى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ... ﴿٦﴾ النساء

او تر هغه یتیمان وآزمویئ چې د نکاح (پړاو) ته ورسېږي؛ نو که د دوی هوښیاري مو احساس کړه؛ نو مالونه ئې وروسپارئ؛...

په دې لارښود آیت سره د یتیم هغو اولیاءو او پالونکو ته څو لارښوونې شوې چې د یتیمانو کفالت کوي او مال ئې ورته ساتي:

- د یتیمانو د روزنې په دوران کې دوی پر له پسې امتحانوئ؛ کله یو کار ورته وسپارئ او کله بل؛ د وړو وړو شیانو په پېر پلور ئې وګمارئ؛ په دې سره به د هغوی ښه روزنه وشي؛ د نکاح پړاو ته له رسېدو وروسته به د خپل مال د ښه پاللو لپاره ذهناً او عملاً تیار او کافي تجربه به ئې ترلاسه کړې وي.
- دا کار به تر هغه کوئ چې یتیمان تر نکاح پوري ورسېږي، دا نه دي ویل شوي چې تر ځوانۍ یا پېغلتوب پوري ورسېږي؛ قرآن ځوانۍ ته رسېدا په دې صیغه یادوي: (وَإِذَا بَلَغَ الأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ: او کله چې ستاسو ماشومان ځوانۍ ته ورسېږي)؛ پر دې هم اکتفاء نه کوي بلکې د نکاح پړاو ته د رسېدو مزید وضاحت کوي او فرمایي: (فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ: نو که په دوی کې مو د عقل او درایت پوخوالی احساس کړ؛ نو مالونه ئې وروسپارئ)؛ د آیت له الفاظو معلومېږي چې (فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا) د نکاح پړاو ته د رسېدو نښه ده؛ یعني هغه مهال ماشوم که یتیم وي او که نه؛ د نکاح وړتیا تر لاسه کړې چې د هغه په افکارو او کړنو کې د رشد او عقلي پوخوالي نښې ولیدل شي؛ د یتیم اولیاء به دا په پام کې نیسي چې آیا هغه د رشد او درایت له پلوه دا وړتیا تر لاسه کړې چې موفقه او سلیمه کورنۍ جوړه کړي او د سم پاللو له عهدې ئې ووځي؟ آیا هغه د دې وړتیا لري چې مال ئې وروسپاري او که نه؛ یوازې بلوغ معیار ونه ګڼي؛ بلکې د بلوغ تر څنګ د ده هوښیارتیا هم په پام کې ولري. دلته رشد او درایت د نکاح د صحت او د طرفینو د وړتیا د یوه شرط په توګه معرفي شوی.

له دې آیت په ډېر وضاحت سره معلومېږي چې نکاح یوه خاصه مرحله او وخت لري؛ دا وخت یوازې بلوغ (ځوانۍ او پېغلتوب) نه دئ؛ بلکې د نکاح

وړتيا؛ د کورنۍ جوړولو استعداد او توانمني؛ او د قرآن په اصطلاح رشد؛ شرط دئ. د قرآن دا وينا (...حَتَّى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ: تر هغه چي د نکاح (پړاو) ته ورسېږي؛ نو که په دوی کي مو درايت او هوښياري احساس کړه؛ مالونه ئې وروسپارئ...)؛ دلته د (بَلَغُوا النِّكَاحَ) فقره له (آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا) سره داسي تړل شوې چي ښيي (آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا) د (بَلَغُوا النِّكَاحَ) نښه، پايله او نتيجه ده؛ ځکه دواړه فقرې په (فَإِنْ: نو که) سره وصل شوې او په ګډه خاص مطلب بيانوي؛ او هغه دا چي د نکاح د صحت او جواز شرط دا دئ چي د نکاح کوونکي او نکاح کېدونکې په تصرفاتو، ويناوو او پرېکړو کي د هغوی ولي او پالونکی دومره رشد، درايت، پوهه او پوخوالي احساس کړي چي کولی شي په ګډه يوه بريالۍ او موفقه کورنۍ جوړه کړي.

آيا د حيرانتيا خبره نه ده چي د دې څرګندي قرآني لارښووني سره سره؛ ځوك د ماشومانو نکاح جائز ګڼي؛ هغه هم د داسي روايت په مټ چي د سند له پلوه غريب دئ او د متن له پلوه نه يوازي په ټول قرآن کي هيڅ شاهد ورته نه مومو بلکي د قرآن له وينا سره جدي او څرګند تعارض لري؟! او له هغو رواياتو سره هم تعارض لري چي وايي: د کونډې او پېغلې د نکاح صحت د هغوی په رضايت او موافقې پوري مشروط دئ؛ دلته ئې دوه بېلګې ستاسو مخي ته ږدم:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «لَا تُنْكَحُ الْأَيِّمُ حَتَّى تُسْتَأْمَرَ، وَلَا تُنْكَحُ الْبِكْرُ حَتَّى تُسْتَأْذَنَ» ، قِيلَ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، وَكَيْفَ إِذْنُهَا؟ قَالَ: «أَنْ تَسْكُتَ» مسند احمد

ابو هريره له رسول الله صلی الله عليه و سلم روايت کوي چي وئې فرمايل: کونډې تر هغه په نکاح نشي ورکول کېدی چي مشوره ورسره وشي او پېغلې تر هغه په نکاح نشي ورکول کېدی چي اجازه ترې وغوښتل شي (موافقه وکړي)؛ وويل شول: يا رسول الله! او اجازه ئې څنګه ده؟ وئې فرمايل: دا چي ساکته پاته شي.

دا روايت په ټولو دغو کتابونو کي راغلی: مسند احمد، صحيح مسلم، سنن الترمذی، صحيح ابن حبان، سنن الدارمي، سنن الکبری للبيهقي, سنن النسائي

او ... ځینو نورو کې هم.

د دې روایت معنی دا ده چې د پېغلې او کونډې له رضایت او إذن پرته نکاح؛ جائز او مشروع نه ده. که هغه خپل عدم موافقت په ژبه، د ټنډې تریوولو، د سر او ګوتې په خوځولو سره او په بلې هرې بڼې ځرګند کړي؛ نکاح ئې باطله ده؛ سکوت او مخالفت نه کول د رضایت نښه ګڼل کېږي؛ مشروط په دې چې دا نه د وېرې له امله وي او نه د شرم له امله؛ باید داسې شرائط رامنځته نه شي چې نجلۍ له زړه راضي نه وي خو د دغو عواملو په سبب د خپل زړه خبره نه شي کولی.

**عَنِ ابْنِ عَبَّاس، أَنَّ جَارِيَةً بِكْرًا أَتَتْ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَذَكَرَتْ أَنَّ أَبَاهَا زَوَّجَهَا وَهِيَ كَارِهَةٌ، فَخَيَّرَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ. مسند احمد، سنن ابی داؤد، شرح السنة للبغوی، مسند ابی یعلی الموصلی، سنن دار قطنی،...**

له ابن عباس روایت دئ چې (یوه پېغله نجلۍ رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغله او دا یادونه ئې وکړه چې پلار ئې په داسې حال کې واده کړې چې دې کرکه درلوده؛ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم دې ته اختیار ورکړ(د بېلېدو یا پاته کېدو)؛ په بل روایت کې راغلي چې دواړه ئې سره بېل کړل.

دا روایات ځکه د اعتبار وړ دي چې وینا ئې د قرآن له لارښوونو سره بشپړ مطابقت لري.

## د ماشومې نجلۍ نکاح او د یوه آیت ناسم تفسیر او تعبیر

ځینې د الطلاق سورې په څلورم آیت؛ په غیر موجه او ناسمه توګه استناد کوي او د آیت دغه فقره (وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ) داسې تعبیروي چې ګواکې مراد ئې نابالغې نجونې دي؛ او ګواکې د هغوی نکاح جائزه ده؛ آیت داسې دئ:

**وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمۡ إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشۡهُرٖ وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ وَأُوْلَٰتُ ٱلۡأَحۡمَالِ أَجَلُهُنَّ أَن يَضَعۡنَ حَمۡلَهُنَّۚ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ**

يَجۡعَل لَّهُۥ مِنۡ أَمۡرِهِۦ يُسۡرًا ﴿٤﴾ الطلاق

او ستاسي هغه مېرمني چي له حيض ناهيلې شوې دي كه شكمن شوئ نو عدت ئې درې مياشتي دئ او د هغو هم چي حيض ئې ودرېدلی؛ او د حامله مېرمنو نېټه دا ده چي خپل حمل وزېږوي؛ او څوك چي له الله ووېرېږي هغه ته به په خپل كار كي آسانی وگرځوي،

د دې آيت په اړه بايد څو مهمي خبري په پام كي ولرو:

- هر لومړنی جنسي مباشرت په مېرمني كي د ډېرو هورمونې تغييراتو باعث كېږي؛ د دې لپاره چي د هغې بدن او د جنسي چارو اړوند غړي له دغه نوي تحول سره ځان عيار كړي؛ دا يوه ډېره پېچلې عمليه او دروند كار دئ؛ په وېني كي خاص هورمونونه تولېدېږي او په رحم كي د نوې نطفې د روغ او سالم ساتلو لپاره لازم تيارى او چمتو والی نيول كېږي؛ خو كه دا عمليه برياليۍ او موفقه نه وه او د بچي نطفه رامنځته نشوه؛ نو د مېرمني په بدن او رحم كي چي شاوخوا يوه مياشت كوم تيارى نيول شوى وو؛ او ډېر تغييرات راغلي وو دا به له منځه ځي او عادي حالت ته به ستنېږي؛ حيض د همدې تصفيې او تعديل رامنځته كولو يوه عمليه ده.
- كله چي د دې مېرمني مېړه يا وفات شي يا طلاق رامنځته شي نو بدن له مخكيني حالت د وتلو او نورمال او عادي حالت ته د ستنېدو لپاره كافي وخت ته ضرورت لري؛ دې وخت ته قرآن د عدة نوم وركړی. په دې موده كي له جنسي مباشرت منع كړی شوې.

په دې آيت كي د هغو مېرمنو د عدت په اړه بحث شوی چي ۱- له حيض مأيوسه شوې؛ خو په ناڅاپي توگه ئې داسي څه ليدلي چي شكمني شوې دي؛ مثلاً د كومي بيمارۍ يا كوم بل عامل له كبله ئې داسي وينه ليدلې چي د حيض گمان ئې پرې كړی؛ ۲- هغه مېرمني چي د حيض لړۍ ئې پای ته رسېدلې؛ د دوی دواړو عدت درې مياشتي ټاكل شوی؛ ۳- هغه مېرمني چي حامله (بلاربې او اميندواري) وي؛ د هغوی عدت د اولاد تر زېږون پوري دئ.

د آيت له الفاظو او تركيب او ترتيب ئې په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي دا درې واړه مېرمني (ٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ)، (ٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ) او (أُوْلَٰتُ ٱلۡأَحۡمَالِ)؛ هغه مېرمني دي چي حيض ئې وو خو بند شوی؛ د (ٱلَّٰٓـِٔي

لَمۡ يَحِضۡنَۚ) داسي تعبیر او تفسیر راایستل چي ګواکي مراد ئې هغه نجوني دي چي پېغلتوب ته نه وي رسېدلې؛ د حیرت وړ جسارت دئ؛ مګر قرآن دومره مبهم دئ؟ چي د ماشومي نجلۍ د نکاح جواز به د هغې د عدت د حکم له مخي معلوموو؟ حقیقت دا دئ چي له «وَاللَّائِي لَمْ يَحِضْنَ» په دې دلیل هم نه شو کولی هغه نجوني ونیسو چي لا پېغلتوب ته نه دي رسېدلې؛ ځکه چي هغوی به ژر یا وروسته پېغلتوب ته رسي او هغه مهال به ئې عدت درې حیضه وي نه درې میاشتي. اساساً د مېرمنو د عدت لپاره درې حیضه ټاکل شوي؛ درې میاشتي د هغو لپاره ټاکل شوې چي حیض ئې متوقف شوی؛ ماشومي نجلۍ په دې ضمن کي نه شي شاملېدی؛ او دلته د (ٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ) معنی قطعاً وړې نجوني نه دي؛ قرآن فرمایي:

وَٱلۡمُطَلَّقَٰتُ يَتَرَبَّصۡنَ بِأَنفُسِهِنَّ ثَلَٰثَةَ قُرُوٓءٖۚ .... ﴿٢٢٨﴾ البقرة

او طلاقي شوې ښځي دي د ځان په اړه تر درې واري حیض انتظار وکړي...

له دې آیت په ډاګه معلومېږي چي د عدت اصلي موده درې قروء (حیضه) ده او درې میاشتي د هغو لپاره ده چې حیض ئې متوقف شوی.

خوك چي وایي: د دې آیت دغه فقره (وَٱلَّٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ) د نابالغو نجونو په اړه دئ او په دې سره غواړي د ماشومانو د نکاح جواز ثابت کړي؛ هغوی ته وایو: ۱- د واړه ماشوم نکاح یوازي په هغه صورت کي جائز ګڼلی شو چي د جواز په اړه ئې د قرآن صریح نص ولرو، حال دا چي په ټول قرآن کي په دې اړه نه یوازي هیڅ اشاره نه مومو بلکي په واضح توګه دا مومو چي قرآن د نکاح لپاره هم بلوغ شرط کړی او هم رشد او عقلي پوخوالی. د هغه چا ادعاء مه منئ چي نه شي کولی د نابالغ ماشوم د نکاح د جواز لپاره د قرآن کوم صریح او څرګند آیت وړاندي کړي. ۲- دې پوښتني ته باید ځواب ووایئ چي د (حتی اذا بلغوا النکاح) معنی څه ده؟ دا دوه متعارضې او متضادې خبرې به څنګه تلفیقوئ چي له یوې خوا د نکاح لپاره بلوغ شرط ګڼي او له بلي خوا د نابالغي نجلۍ نکاح جائز بولي؟ ۳- قرآن خو د نکاح د صحت لپاره (رشد) د شرط په توګه وړاندي کړی؛ او وایي (... حَتَّىٰٓ إِذَا بَلَغُواْ ٱلنِّكَاحَ فَإِنۡ ءَانَسۡتُم مِّنۡهُمۡ رُشۡدٗا : تر هغه د نکاح حد ته ورسېږي نو که مو په هغوی کي رشد او هوښیارتیا احساس کړه..)؛ تاسو ولي دا شرط له پامه غورځولی؟ په

داسي حال کې چې نه په ټول قرآن کې داسي آيت مومو چې د نابالغ هلك او نجلۍ د نکاح جواز ترې ثابت شي؛ ولې کله په ضعيفو رواياتو استناد کوئ او کله په بلې مشخصي موضوع پورې مربوط آيت؛ په تکلف سره د خپل غرض لپاره غلط تعبيروئ ٤- له دې الهي لارښووني سره به څه کوئ چې خاوند ئې له بزگر او مېرمن ئې له پټي سره تشبيه کړې؛ او توصيه کوي چې د نکاح موخه به اولاد درلودل او د کورنۍ جوړول وي نه يوازې د جنسي غريزې اشباع؛ هلته چې فرمايي: نِسَآؤُكُمۡ حَرۡثٞ لَّكُمۡ فَأۡتُواْ حَرۡثَكُمۡ أَنَّىٰ شِئۡتُمۡۖ وَقَدِّمُواْ لِأَنفُسِكُمۡۚ .... البقرة: ٢٢٣؛ د دې الهي امر او قرآني لارښووني په شتون کې به د وړې نجلۍ نکاح څنگه توجيه کوئ؟ په دغو دريو خبرو کې يوه منلی شو: ١- د وړې نجلۍ نکاح جائزه ده، ٢- د نکاح د صحت لپاره بلوغ شرط دئ او ٣- پر بلوغ سربېره رشد بل مهم شرط دئ. په سل يقين سره ويلی شو چې د قرآن له نظره د نکاح د صحت لپاره پر بلوغ سربېره رشد هم شرط دئ؛ هر څوك چې له دې پرته بله خبره کوي؛ ادعاء ئې د دې آيت خلاف ده چې وايي: .... حَتَّى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ... : تر هغه چې د نکاح (پړاو) ته ورسېږي؛ نو که په دوی کې مو درايت او هوښياري احساس کړه؛ مالونه ئې وروسپارئ...

حقيقت دا دئ چې د الطلاق سورې په ٤ آيت کې د عدت په اړه لاندي لارښووني شوې:

- ستاسي هغه مېرمني چې له حيض ناهيلي شوې دي که شکمن شوئ نو عدت ئې درې مياشتي دئ. دلته څو خبرې بايد په پام کې ولرو: ١- له (وَٱلَّٰٓـِٔي يَئِسۡنَ مِنَ ٱلۡمَحِيضِ مِن نِّسَآئِكُمۡ) هغه مېرمني مراد دي چې د زړښت له کبله له حيض ناهيلي شوې، دا ځکه چې د مېرمنو حيض هم په زړښت کې متوقف شي، هم د حمل په حالت کې او کله کله د خاص مرض له امله. نو د دغو مېرمنو د عدت لپاره د درې حيضونو پر ځای درې مياشتي ټاکل شوې. ٢- د (إِنِ ٱرۡتَبۡتُمۡ فَعِدَّتُهُنَّ ثَلَٰثَةُ أَشۡهُرٖ) په اړه ځينو مفسرينو ويلي چې معنی ئې د اړوند حکم په ارتباط شك دئ، يعني که شکمن شوئ چې حکم به ئې څه وي؛ نو پوه شئ چې حکم ئې دا دئ، په داسي حال کې چې د حکم په اړه شکمن کېدل قطعاً وارد او مناسب تعبير نه دئ؛ ځينو نورو ويلي چې معنی ئې دا ده: که شکمن شوئ او داسي وينه تر سترگو شوه چې نه پوهېږئ د

حيض له کبله ده او که د کومي بيمارۍ له کبله نو عدت ئې درې مياشتي دئ، داسي وينه انسان په شك کې اچوي چي دوی د عمر هغه حد ته رسېدلې که نه چي د حامله کېدو او زېږون امکان له منځه ځي او حيض متوقف کېږي؛ د آيت له فحوی په څرګنده توګه معلومېږي چي د دوهمي ډلي مفسرينو رأيه دقيقه ده، دا ځکه چي له يوې خوا د بحث موضوع هغه مېرمني دي چي ۱- يا له حيض مأيوسه شوې خو شکمني شوې دي او ۲- يا هغه چي په بشپړه او يقيني توګه پوهېدلې چي نور د حيض له پړاو تېري شوې؛ د دوی دواړو عدت درې مياشتي دئ؛ که څه هم په دې اړه ځينو مفسرينو د آيت له دې فقرې (وَٱلَّـٰٓـِٔي لَمۡ يَحِضۡنَۚ) دا تعبير وړاندي کړی چي ګواکي مراد ئې هغه نجوني دي چي لا د حيض سن (بلوغ) ته نه دي رسېدلې؛ نو د هغوی عدت هم درې مياشتي دئ؛ همغسي لکه چي د هغو مېرمنو هم درې مياشتي دئ چي حيض ئې ځنډېدلی او شکمني دي؛ د همدې ناسم تعبير په استناد له داسي نجونو سره نکاح جائز ګڼي چي لا پېغلتوب ته نه وي رسېدلې، خو نور مفسرين وايي: مراد ئې د حيض په اړه دوه ډوله مېرمني دي: لومړی هغه چي د کوم خاص عامل له کبله د هغوی په مياشتني حيض کې کوم خلل رامنځته شوی او شك ورته پيدا شوی چي دا موقتي خلل دئ که د حيض دائمي توقف؛ او بله هغه چي حيض ئې په يقيني او دائمي توګه متوقف شوی؛ د دواړو عدت سره ورته او درې مياشتي دئ او د حامله مېرمنو عدت دا دئ چي خپل حمل وزېږوي.

• دې پوښتني ته هم بايد ځواب وړاندي کړو چي مېرمني ولي په دې مکلفي شوې چي تر بل ازدواج وړاندي به د طلاق په صورت کې درې حيضونه او د مېړه د وفات په صورت کې به څلور مياشتي او لس ورځي انتظار کوي؟

ځواب دا دئ: الله تعالی انسان ته داسي حساس بدن، د بدن ځانګړی جوړښت او فعال او ځيرك مغز ورکړی چي که هر اجنبي شی؛ له هري لاري؛ خولې، پزي، پوستکي، غوږ، سترګي او نورو لارو د انسان بدن ته ننوځي نو ژر او له ځنډه پرته فوراً مناسب او ضروري غبرګون ښيي؛ که مضر وي چاره ئې کوي، که ميکروب، بکتريا او ويروس وي مقابله ئې کوي، لومړی ئې د پېژندو هڅه کوي، بيا هغه دواء تشخيصوي او توليدوي چي دا دښمن له منځه وړی شي، په شاوخوا شپږو مياشتو کې د بدن ټول حجرات بدلوي چي

شمېر ئې په ملياردونو دئ؛ د زړو په عوض نوي راپيدا کوي؛ نوې ژوندۍ نطفې جوړوي؛ او دا هغه کار دئ چې د نړۍ ټول ډاکټران ئې؛ له خپلو ټولو وسائلو او تجهيزاتو سره نه شي کولی؛ نه ژوندۍ حجره جوړولی شي او نه ژوندۍ نطفه؛ د ويروس ضد اغېزمني دواء له جوړولو هم عاجز دي؛ اغېزمنه چاره ئې واکسين ده چې هغه هم د انسان په بدن کې د سپينو کروياتو تحريکولو له لاري د ويروس ضد دواء جوړول دي؛ نه په لابراتوار کې د دواء جوړول. نن په ۲۱ پېړۍ کې د نړۍ هيڅ مخکې تللی کمپيوټر نه شي کولی د انسان د مغز څو سلنه برخه کارونه وکړی شي.

• اوس او په ۲۱ پېړۍ کې له ساينسي او علمي پلوه دا حقيقت څرګند شوی چې له لومړي جنسي مباشرت سره سم؛ د مېرمني په بدن کې داسي خاص تغييرات رامنځته شي او خاص هورمونونه راپيدا شي چې د مېرمني رحم او وجود ئې د دې نوي جنسي تعلق او نوې نطفې لپاره عيار کړي؛ دا تغييرات او نوي هورمونونه د همدغو دوو؛ مېرمن او مېړه په مباشرت پوري مربوط او مختص دي؛ که د دوی تر منځ بېلتون رامنځته شي؛ نو مېرمن مخکيني طبيعي حالت ته د ستنېدو او د دغو تغييراتو او هورمونو د ازالې لپاره لږ تر لږه؛ دريو حيضونو ته ضرورت لري؛ که تر دې مودې وړاندي له بل کس سره جنسي مباشرت وکړي؛ او په نتيجه کې ئې د هغې بدن کې نوي او له بل جنسي مباشرت راټوکېدلي هورمونونه راپيدا شي؛ دا د مېرمني بدن کې د هورمونونو د عدم تعادل او تعارض باعث کېږي او دې مېرمن او اولاد ته ئې بدي پايلي لري. اوس په لابراتوار کې د دې امکان شته چې معلومه شي؛ تر معايناتو لاندي يوې مېرمني؛ له يوه تن سره جنسي مباشرت کړی که له دوو او زياتو سره. له اړوند هورمونونو او د دوی تر منځ له توپيرونو په دې اسرارو پوهېدی شو. نو د اسلامي لارښوونو له مخې د کونډو او طلاق شوو مېرمنو لپاره عدت يوازي د دې لپاره نه دئ چې معلومه شي له مخکيني مېړه په خپل رحم کې څه لري که نه؛ بلکې طبيعي حالت ته د ستنېدو او د نوې جنسي رابطې لپاره د چمتو کېدو په موخه؛ عدت ورته ټاکل شوی.

## د نابالغ نکاح او اړوند روايات ئې

که د رواياتو کتابونه لږ په دقت سره وڅېړو نو ډېر ژر دې پايلي ته

رسېږو چي د ماشومانو د نکاح د جواز په اړه هيڅ داسي روايت نشته چي د سند او متن له پلوه د اعتبار او اعتناء وړ وي؛ دا ممکنه نه ده چي قرآن به يو څه وايي او رسول الله صلى الله عليه و سلم بل څه؛ قرآن د نکاح لپاره د بلوغ تر څنگ رشد ته رسېدا شرط گڼي او روايت به د دې څرگند آيت خلاف وايي: د وړې نجلۍ نکاح هم جائز ده!! متأسفانه په عوامو او د عوامو په څېر ملايانو کې همداسي کمزوري آراء او ضعيف روايات خواره شوي؛ تر ټولو مشهور ئې هغه دئ چي په بخاري کې راغلی؛ او وايي:

٣٨٩٦ - عَنْ هِشَامٍ عَنْ أَبِيهِ قَالَ تُوُفِّيَتْ خَدِيجَةُ قَبْلَ مَخْرَجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَى الْمَدِينَةِ بِثَلَاثِ سِنِينَ فَلَبِثَ سَنَتَيْنِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذَلِكَ وَنَكَحَ عَائِشَةَ وَهِيَ بِنْتُ سِتِّ سِنِينَ ثُمَّ بَنَى بِهَا وَهِيَ بِنْتُ تِسْعِ سِنِينَ.

هشام له خپل پلار روايت کوي چي وئې ويل: خديجه مدينې ته د رسول الله صلى الله عليه و سلم له تلو درې کاله وړاندي وفات شوه؛ نو (رسول الله) دوه کاله يا دې ته نژدې همداسي پاته شو؛ بيا ئې عائشه په نکاح کړه په داسي حال کې چي هغه شپږ کلنه نجلۍ وه؛ او بيا ئې هغه مهال واده کړه چي نه کلنه وه.

دا روايت د سند له پلوه ډېر غريب دئ؛ په دوو طبقو (صحابه او تابعينو) کې يو يو راوي لري چي پلار او زوی (عروه او هشام) رحمة الله عليهما دي؛ له هشام هم دا روايت په شاوخوا ١٤٠ هجري کال کې او هغه هم په کوفه کې روايت شوی؛ نه په مدينه کې!! يعني چي په مدينه کې تر دغي نېټې پوري؛ هيڅ صحابي او تابعي له ده دا خبره نه ده اورېدلې!! نه د رسول الله صلى الله عليه و سلم په ژوندون کې او نه ئې له رحلت وروسته؛ هيچا دا خبره نه ده کړې چي عائشه رضي الله عنها په ٩ کلنۍ کې واده شوې!!

د دې روايت په متن کې هم جدي ستونزه مومو؛ وايي: (فَلَبِثَ سَنَتَيْنِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذَلِكَ: نو دوه کاله يا دې ته نژدې موده همداسي پاته شو)؛ يعني چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د خديجې رضي الله عنها له وفات وروسته؛ د عائشې رضي الله عنها تر نکاح پوري دوه کاله همداسي مجرد او بې مېرمني پاته شو!! په داسي حال کې چي دا خبره قطعاً غلطه ده؛ حقيقت دا دئ چي رسول الله صلى الله عليه و سلم د خديجې رضي الله عنها له

وفات لنډه موده وروسته؛ سوده رضي الله عنها په نکاح کړې او تر دريو کلنو پوري ئې يوازي له همدې مېرمنې سره تېر کړي. نو د روايت دا عبارت: "فَلَبِثَ سَنَتَيْنِ أَوْ قَرِيبًا مِنْ ذَلِكَ" هيڅ حقيقت نه لري، همدا راز د روايت دا برخه بې بنسټه ادعاء ده چې وايي: بيا ئې له عائشې رضي الله عنها سره په داسې حال کې نکاح وکړه چې هغه شپږ کلنه وه. په داسې حال کې چې د خديجې رضي الله عنها د وفات او د عائشې رضي الله عنها تر نکاح پوري نږدې پنځه کلونه تېر شوي!!

د بخاري همدا غريب روايت په تکرار سره په دغو شمېرو ۳۸۹۴، ۵۱۵۶، ۵۱۶۰، هم راغلی؛ غريب دئ او په دوو طبقو کې يوازي يو يو راوي لري، هيڅ راوي ئې نه له ځان پرته بل شاهد لري او نه په قرآن کې کوم شاهد؛ هيڅ د داسې صحابي نوم نه دئ اخيستی چې کومه ماشومه نجلۍ ئې په نکاح کړې وي؛ يوازي هشام او پلار ئې عروه ته دا ناسمه او د حقيقت خلاف وينا منسوب شوې چې وايي: د عائشې رضی الله عنها نکاح په نه کلنۍ کې تر سره شوې، متأسفانه همدا خبره په مسلمانانو کې مشهوره شوې، ځيني د دغه روايت د توجيه لپاره وايي چې د تودو سيمو نجلۍ او هلکان د سړو سيمو په پرتله ژر بلوغ ته رسېږي، دوی هم بلوغ شرط ګڼي او رأيه ئې دا ده چې کېدی شي يوه نجلۍ په نه کلنۍ کې پېغلتوب ته ورسېږي.

رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د يوې ماشومې نکاح منسوبول خو څه عادي خبره نه ده؛ هغه هم په داسې حال کې چې دا د قريشو د عام دود او دستور خلاف هم وو؛ که دا کار شوی وی نو نه يوازي په صحابه وو کې به ئې په لسګونو راويان درلودل؛ بلکې دښمنانو به د شعر او نثر پرېړ کتابونه پرې ليکلي وو. خو نه داسې روايت مومو چې قريشو په دې اړه څه ويلي وي او نه له دې غريب روايت پرته بل داسې روايت چې د اعتناء او اعتبار وړ وي!! که د قرآن د لارښووني له مخې د يوې عادي مالي دعوی لپاره دوه شاهدان شرط وي، که د يوې اخلاقي دعوی لپاره څلور شاهدان شرط وي او که بې له شاهدانو دعوی کوونکی د قرآن له نظره «فاسق» بلل کېږي، نو رسول الله صلى الله عليه و سلم ته منسوب يوه ادعاء به څنګه له يوه کس او له شاهد پرته منو؟! او هغه ادعاء به څنګه منو چې د قرآن د څرګندې وينا خلاف وي؟!

امام بخاري رحمه الله د ځينو غريبو رواياتو، منفردو او د مخكينيو ائمه وو د آراءو مغاير نظرياتو له كبله هم په نيشاپور كې د خپل استاد امام ذهلي رحمه الله له داسي شديد مخالفت سره مخ شو چي مجبور شو په پټه له نيشاپور ووځي او خپل وطن بخارا ته ولاړ شي؛ په بخارا او سمرقند كې هم له دومره سختو مخالفتونو سره مخ شو چي الله تعالی ته ئې د شكايت په ضمن كې د مرگ تمنی وكړه.

د بخاري دا روايت د محققينو له نظره؛ نه روايتاً صحيح دئ او نه درايتاً؛ ستري ستونزي ئې دا دي:

۱- د قرآن له څرگندي لارښووني سره مغايرت لري؛ ځكه قرآن د نكاح لپاره بلوغ نه بلكي رشد شرط گڼي؛ او دا روايت د شپږ كلني نجلي نكاح جائز گڼي! او بالتبع تر شپږ كلنۍ د وړې نجلۍ نكاح هم!! همداسي روايتونو ته په پام سره ځيني جاهلان خپله څو مياشتنۍ لمسۍ هم د بل زوی ته په نكاح وركوي!!

۲- دا د انساني فطرت خلاف ده؛ په داسي حال كې چي د مخلوقاتو رب؛ د جنسي نژدېكت وړتيا؛ د دې لپاره په هغوی كې ايښې چي همدا ئې د نسل د بقاء او دوام يوازينۍ وسيله او فطري طريقه ده؛ دا وړتيا هم د پيدايښت په لومړيو كې نه بلكي څو كلونه وروسته او په ځوانۍ او پېغلتوب كې فعاله شي؛ په حيواناتو او مرغانو كې هم؛ جنسي يو ځای كېدا له بلوغ وروسته او د اولاد په موخه وي؛ تر دې وړاندي د جنسي نژدېكت ضرورت نه احساسوي. مرغان چي كله ئې بچيان ستر او د الوتو شي او وگوري چي نور ځان ساتلی او بېله كورنۍ جوړولی شي؛ نو له خپلي ځالي ئې وشړي؛ دوه سره يو ځای شي او ځان ته بېله ځاله جوړه كړي؛ او د اولاد په زېږولو او پاللو بوخت وي.

۳- دا روايت له ډېرو هغو رواياتو سره تعارض لري چي وايي: عائشه رضي الله عنها د هجرت په وخت كې ۱۷ او د واده په وخت كې نژدې ۱۹ كلنه وه.

متأسفانه په بخاري كې د عائشې رضي الله عنها د نكاح په اړه متناقض روايات راغلي؛ يو روايت وايي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم د خديجې رضي الله عنها له وفات درې كاله وروسته هغه په نكاح كړه؛ په بل روايت كې راغلي چي رسول الله صلی الله عليه و سلم په دوهم هجري كال؛ او د بدر له جگړي وروسته؛ يعني د خديجې رضي الله عنها له وفات پنځه كاله

وروسته؛ عائشه په نکاح کړې.
٤- دا روايت د إسنادو له پلوه غريب دئ، په اوله او دوهمه طبقه کې ئې راويان يو يو تن؛ پلار او زوی؛ هشام او عروه دي. له هشام دا روايت د ده په زړښت کې د رسول الله صلى الله عليه و سلم له رحلت نژدي ١٣٠ کاله وروسته او هغه هم په کوفه کې روايت شوی؛ تر دې وړاندي او په مدينه کې هيچا؛ حتى د هشام رحمه الله شاګرد؛ امام مالك؛ دا روايت نه دئ اورېدلی او په خپل مشهور کتاب موطأ کې ئې نه دئ راوړی؛ له همدې کبله دا شك رامنځته کېږي چې د دې روايت تر شا به هغه اختلافات خپل اغېز لرلو چې د علي رضي الله عنه په شهادت منتج شو؛ د عائشې رضي الله عنها د شخصيت او حيثيت راکمولو لپاره دا روايت جوړ او خپور شوی؛ کوفه ئې يوازينی محل وو؛ دا ځکه چې هلته د عائشې کافي مخالفين وو؛ که له هشام سره په رښتيا دا روايت وو او دا خبره ئې کړې وي؛ نو په مدينه کې به چا ترې اورېدلې وه؛ امام مالك به ترې اورېدلې وه؛ ولې نژدې يوه نيمه پېړۍ وروسته دا روايت راڅرګندېږي او هغه هم د فتنو په مرکز کوفه کې؟!
٥- که څه هم هشام لوی شخصيت او معتبر راوي دئ؛ خو د ده په اړه علماء رجال وايي: د عمر په پای کې ئې حافظه ضعيفه شوې وه او مطالب ترې خلط او ګډ وډ کېدل. دا مهال هغه په کوفه کې اوسېدو.
٦- د مهمو قضاياوو؛ مخصوصاً د احکامو او حلال او حرام په ارتباط؛ په داسي غريب روايت إستناد نشي کېدی؛ چې نه يوازي په قرآن کې شاهد ونه لري؛ بلکې وينا ئې د قرآن خلاف وي؛ او اصلي راوي ئې د حافظې په ضعف تورن وي.
٧- اسلام د نکاح لپاره د ايجاب او قبول شرط ايښی؛ دا شرط بلوغ او رشد ايجابوي؛ تر بلوغ وړاندي؛ إيمان هم اعتبار نه لري؛ د کافر او مشرك اولاد هم جنت ته ځي؛ که د دوی ايمان او عدم ايمان مدار د اعتبار نه وي؛ نو د نکاح معاهده به ئې څنګه معتبره وي؟!
دې مهمي پوښتني ته هم بايد دقيق او د قرآن د وينا مطابق ځواب ووايو چې ځوان هلك او پېغلي نجلۍ ته د خپل ځان او ازدواج په اړه د پرېکړي واك ورکړی شوی که نه، که ورکړی شوی له دې واك کله استفاده

کولی شي؛ تر بلوغ وړاندي که وروسته، بلوغ شرط دئ که رشد؟ د النساء سورې له ٦ آیت په څرګنده توګه معلومیږي چي د نکاح لپاره یوازي بلوغ نه بلکي رشد هم شرط دئ؛ که یتیم ته د ده خپل مال سپارلو په اړه د قرآن لارښوونه دا وي او هغه د یتیم په رشد پوري مشروطوي؛ نو د ازدواج په اړه به ئې لارښوونه او غوښتنه څه وي او الله تعالی به په څه راضي کیږي؟ یقیناً چي د ازدواج موضوع تر دې ډیر ډیر ارزښت او اهمیت لري چي د هغوی مال کله او په کوم عمر کي ورسپارل شي؛ په دې کي هیڅ شك نشته چي د نکاح لپاره لومړی شرط بلوغ دئ او دوهم ئې رشد او له دې آیت په واضح او پرېکنده توګه همدا معلومیږي؛ ځکه چي د نکاح پړاو ته رسېدا ئې له رشد سره تړلې؛ هلته چي وایي: حَتَّى إِذَا بَلَغُوا النِّكَاحَ فَإِنْ آنَسْتُمْ مِنْهُمْ رُشْدًا فَادْفَعُوا إِلَيْهِمْ أَمْوَالَهُمْ: تر هغه چي د نکاح (پړاو) ته ورسیږي؛ نو که دا مهال مو په دوی کي هوښیارتیا احساس کړه؛ مالونه ئې وروسپارئ.

قرآن موږ ته وایي چي د نکاح موخه د نسل دوام او د اولاد درلودل دي؛ نه فقط د جنسي غریزې اشباع؛ نو له هغي ماشومي سره جنسي نژدېکت د دین او فطرت خلاف کار دئ چي بلوغ ته نه وي رسېدلې؛ اسلام چي د نکاح په اړه کومي لارښووني لري؛ مهمي برخي ئې دا دي:

- له بلوغ وروسته؛ د دواړو په موافقه او هغه مهال ترسره شي چي دواړه د رشد پړاو ته رسېدلي وي او د سمي پرېکړي او صحیح انتخاب جوګه وي.
- یو د بل کفو او سیال وي او اجتماعي حالت ئې سره ورته وي.
- د یوې کورنۍ جوړولو او اولاد پاللو په موخه وي؛ نه د جنسي غریزې د اشباع په موخه او موقته اړیکه.
- د دواړو تر منځ توافق ئې اصلي شرط او د کورنیو توافق ئې مفید او غوره ګڼلی.
- مناسب مهر ټاکل؛ هومره چي د مېرمني مستقبل تضمین کړي او هغه پرې راضي شي. دا مهر په بشپړه توګه د نجلۍ حق دئ او مقدار ئې هم د دې په موافقې پوري تړلی دئ.
- لږ تر لږه دوه نارینه یا یو نارینه او دوه ښځي به د شاهدانو په توګه په منځ کي وي.
- څرګنده به وي او پټه به نه پاته کیږي.

• لکه چي ګورئ قرآن د نکاح لپاره خاص پړاو ټاکلی؛ دا ټاکلی پړاو یوازې بلوغ (ځواني او پېلغتوب) نه دئ، بلکې د آیت له لارښووني په ډېر وضاحت سره معلومېږي چي د بلوغ تر څنګ باید رشد او د عقل پوخوالی هم په پام کې وي.

متأسفانه ځینو د (بلغوا النکاح) له فقرې دا انتباه اخیستې چي ګواکې دلته د (بلغوا) معنی ځواني او پېغلتوب دئ؛ دا ځکه چي موږ د ځواني لپاره د بلوغ صیغه کاروو؛ په داسي حال کې چي د بلوغ ساده او اصلي معنی رسېدا ده؛ نه ځواني؛ دې ته مو باید پام وي چي قرآن ځوانۍ ته رسېدا په دې صیغه یادوي: وَإِذَا بَلَغَ الأَطْفَالُ مِنكُمُ الْحُلُمَ: او کله چي ستاسو ماشومان حلم (ځوانۍ او پېغلتوب) ته ورسېږي. او هغه چي لا بالغ شوي نه وي په دې صیغه ئې یادوي: وَالَّذِينَ لَمْ يَبْلُغُوا الْحُلُمَ: او هغه چي لا حلم (ځوانۍ) ته نه دي رسېدلي. له دې معلومېږي چي د نکاح او واده حد ته رسېدا؛ له هغه عمر سره توپیر لري چي ماشوم ځوانۍ ته رسېږي؛ د نکاح لپاره د ځوانۍ او بلوغ تر څنګ؛ رشد او د کورنۍ جوړولو او پاللو وړتیا هم ضروري ګڼل شوې.

د دې قرآني لارښوونو په رڼا کې په آسانۍ سره کولی شو د هغو روایاتو او آراءو د صحت او عدم صحت په اړه قضاوت وکړو چي د نکاح د طرفینو د عمر په اړه راغلي؛ له دغو روایاتو یو ئې هغه دئ چي په بخاري کې راغلی او وایي؛ د عائشې رضي الله عنها د نکاح عقد په شپږ کلنۍ کې او واده ئې په نه کلنۍ کې شوی؛ او له همدې روایت د اسلام دښمنانو د پراخو تبلیغاتو وسیله جوړه کړې؛ دا د بشري حقوقو ضد عمل او د ماشومانو پر حق جدي تېری ګڼي. راشئ وګورو چي حقیقت څه دئ او دا روایات د اعتبار وړ دي که نه؛ او دا چي د عائشې رضي الله عنها نکاح په څو کلنۍ کې شوې؟

د عائشې رضي الله عنها د عمر په اړه د سیرت، تاریخ، تفسیر او احادیثو کتابونو کې پراخ تناقضات او تعارضات مومو؛ داسي چي عقد ئې له ٦ تر ١٦ کلنۍ پوري او نکاح ئې له ٩ تر ١٩ کلنۍ پوري ښودل شوي!!

په دې اړه چي کوم روایات راغلي؛ ١٤ ئې د هشام بن عروه له لوري دي. عجیبه لا دا ده چي دا مهمه قضیه؛ له مشرانو صحابه وو هیڅا په تاریخ او سیرت کې نه ده روایت کړې. رسول الله صلی الله علیه و سلم هم نه دي ویلي چي عائشه ئې په نه کلنۍ کې واده کړې!! په قرآن کې هم په دې ارتباط

هيڅ څه اشارتاً او صراحتاً نه مومو!

که هغه روايات چې وايي د عقد په وخت کې عائشه رضي الله عنها شپږ کلنه او د نکاح په وخت کې نه کلنه وه؛ وڅېړو؛ نو وبه ګورو چې نه روايتاً معتبر دي او نه درايتاً؛ تر ټولو لويه ستونزه ئې دا ده چې د قرآن له څرګندي لارښووني سره جدي او ژور تعارض لري؛ قرآن د نکاح او د مال تصرف لپاره پر بلوغ علاوه؛ رشد او درايت ضروري ګڼي او وايي: تر هغه يتيمان وآزمويئ چې د نکاح پړاو (عمر) ته ورسېږي؛ نو که تاسو په هغوی کې رشد او عقلمني ومومئ؛ مال ئې وروسپارئ.

له دې آيت او قرآني لارښووني په څرګنده توګه معلومېږي چې يتيم ته د مال سپارلو لپاره يوازي بلوغ شرط نه دئ؛ بلکې رشد او د عقل پوخوالی هم شرط دئ؛ د نکاح اهميت او حساسيت؛ تر مال ډېر زيات دئ؛ لا زيات رشد او د عقل پوخوالی ايجابوي؛ دواړه بايد د دې وړتيا ولري چې نوې موفقه کورنۍ جوړه کړی شي او د اولاد د ښې روزنې اهليت ولري؛ نه پوهېږو څنګه څوك د دې جرأت کوي چې رسول الله صلی الله عليه و سلم ته داسي کار منسوبوي چې د قرآن له دې څرګند آيت سره منافات لري؟!

د عائشې رضي الله عنها خور أسماء ۲۷ کلنه وه چې مدينې ته ئې هجرت وکړ؛ دا مهال عائشه رضي الله عنها ۱۷ کلنه وه، نکاح ئې د بدر له جګړې وروسته په دوهم هجري کال او په ۱۹ کلنۍ کې تر سره شوې.

دا هغه څه دي چې په دغو مصادرو کې راغلي: " حلية الأولياء " (۵٦/۲)، "معجم الصحابة " لأبي نعيم الأصبهاني، "الاستيعاب" لابن عبد البر (۱۷۸۳/٤)، "تاريخ دمشق" لابن عساكر (۸/٦۹)، "أسد الغابة "لابن الأثير (۱۲/۷)، "الإصابة" لابن حجر (٤۸۷/۷) او "تهذيب الكمال د حافظ جمال‌الدين ابو الحجاج " (۱۲۵/۳۵)

د عائشې رضي الله عنها د نکاح په اړه د بخاري رواياتو کې تناقض دئ؛ يو ئې وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم د خديجې رضي الله عنها له وفات درې کاله وروسته عائشه په نکاح کړه؛ په بل کې وايي: خديجه رضي الله عنها له هجرت درې کاله وړاندي وفات شوه؛ او رسول الله صلی الله

علیه و سلم نژدې دوه کاله نور انتظار وکړ او بیا ئې عائشه په نکاح کړه؛ د دواړو روایاتو تر منځ پوره دوه کاله توپیر مومو؛ په دغو متعارضو روایاتو کې کوم یو ئې صحیح دئ؟

هغه روایات، آراء او آثار چي ښیي عائشه رضي الله عنها هغه مهال په نکاح شوې چي عمر ئې شاوخوا ۱۹ کاله وو؛ ځیني ئې دادي:

۱- مشره خور ئې اسماء؛ تر دې لس کاله مشره وه؛ کله چي له کورنۍ سره یو ځای مدینې ته رامهاجر شول ۲۷ کلنه وه؛ نژدې سل کلنه وه چي وفات شوه؛ د وفات کال ئې ۷۳ هجري کال وو؛ او همدا ښیي چي د هجرت په کال ۲۷ کلنه وه؛ ځکه ۷۳+۲۷= ۱۰۰ او له دې معلومېږي چي عائشه دا مهال ۱۷ کلنه وه؛ په دوهم هجري کال او د بدر له جګړي وروسته په ۱۹ کلنۍ کې واده شوې. دا هغه څه دي چي ابن حَجَر عسقلاني له أبي نُعَيم الأصبهاني؛ په دې صیغه نقل کړي:

...أَنَّ أَبِي نُعَيْمٍ الأَصْبَهَانِيِّ قَالَ بِأَنَّ أَسْمَاءَ بِنْتَ أَبِي بَكْرٍ وُلِدَتْ قَبْلَ الْهِجْرَةِ بِسَبْعٍ وَعِشْرِينَ سَنَةً.

...دا چي ابي نعیم اصفهاني ویلي چي اسماء بنت ابوبکر ۲۷ کاله تر هجرت وړاندي پیدا شوې.

۲- روایات وایي: له خدیجې رضي الله عنها وروسته بله مېرمن چي ایمان ئې راوړی؛ د عباس رضي الله عنه مېرمن ام الفضل وه؛ او بیا د ابوبکر رضي الله عنه دوو لوڼو اسماء او عائشې ایمان راوړی؛ او د دې معنی دا ده چي عائشه رضي الله عنها تر بعثت مخکي پیدا شوې او د ایمان راوړلو په وخت کې ئې عمر دومره وو چي د عقل او فهم له مخي د ایمان راوړلو جوګه وه.

۳- له عائشې روایت دئ چي رسول الله صلی الله علیه و سلم به نژدې هره ورځ زموږ کور ته سبا یا ماښام راتلو؛ او دا هغه مهال وو چي خپل رسالت ئې نه وو علني کړی؛ یعني د بعثت په لومړیو څلورو کلنو کې عائشه د دومره عمر وه چي دې خبرو ته ئې پام وو. دا روایات له هغه سره بشپړ مغایرت لري چي وایي دا مهال عائشه رضي الله عنها لا نه وه پیدا شوې.

٤- د خدیجې رضي الله عنها له وفات وروسته او تر هجرت دوه کاله وړاندې؛ او په داسې حال کې چې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته؛ له څلورو لوڼو؛ دوه وړې په کور کې پاته وې؛ ام کلثوم او فاطمه رضي الله عنهما؛ دوه نورې واده شوې وې؛ د کور ساتنې او د لوڼو د پالنې لپاره ئې واده ته ضرورت وو؛ خوله بنت حکیم په وار وار ده ته د واده سپارښتنه کوله؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وویل: له چا سره؟ هغې وویل: که پېغله غواړې نو عائشه او که کونډه غواړې نو سودة بنت زَمْعَة؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وویل: زما په اړه دواړو ته یادونه وکړه؛ هدف ئې دا وو چې که یوه موافقه ونه کړي نو بلې ته یادونه وکړي؛ خوله لومړی د عائشې ناسکه مور ام رومان بنت عامر ته ورغله؛ خبره ئې ورته یاده کړه؛ هغې وویل: صبر وکړه ابوبکر راځي؛ مُطْعِم بن عَدِي د خپل زوی جُبَیر لپاره د عائشې په اړه غوښتنه کړې؛ ابوبکر رضي الله عنه ئې غوښتنې ته څکه منفي ځواب ورکړ چې ښایي د ده لور به خپل غلط دین ته واړوي. ابوبکر رضي الله عنه خوله ته وویل: محمد علیه السلام ته ووایه چې راشي؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم د خِطبې لپاره ورغلی او موافقه شوې؛ اما واده ئې درې کاله وروسته تر سره شوی.

له دې په څرګنده توګه معلومېږي چې عائشه رضي الله عنها لا له وړاندې پېغلتوب ته رسېدلې وه او مُطْعِم بن عدي خپل زوی ته غوښتې وه.

د قریشو عام دود دا وو چې خپلې لوڼې به ئې تر پېغلتوب وړاندې نه ودولې؛ دا ئې د پېغور کار ګڼلو چې په ماشومتوب کې خپله لور واده او له کور رخصت کړي؛ دا چې ګورو؛ د عائشې رضي الله عنها د عقد او نکاح په اړه د قریشو هیچا؛ نه دوست او نه دښمن؛ هیڅ اعتراض او نیوکه نه ده کړې؛ دا ښیي چې دا نکاح په پاخه عمر کې او د قریشو له عام دود سره سم تر سره شوې.

دا هم باید په پام کې ولرو چې خوله د دې لپاره رسول الله صلی الله علیه و سلم ته د واده سپارښتنه کوله چې د ده د دوو وړو لوڼو پالنه وکړي؛ څنګه ومنو چې همدا خوله به یوه بله وړه نجلۍ د رسول الله صلی الله

عليه و سلم لپاره غوره کوي؟!

له روایت معلومېږي چي خوله له سودې بنت زمعه سره هم خبره کړې وه او هغې موافقه کړې وه؛ او رسول الله صلی الله علیه و سلم ځکه له هغې سره واده کړی چي مشره کونډه وه او د ده لوڼې ئې پاللی شوی؛ رسول الله صلی الله علیه و سلم له سوده سره درې کاله یوازي او له بل واده پرته تېر کړي؛ یعني رسول الله صلی الله علیه و سلم تر نژدې ۵۵ کلنۍ پوري؛ ۲۵ کلونه له خدیجې رضي الله عنها سره او درې کلونه له سوده رضي الله عنها سره یوازي تېر کړي؛ او د خپل مبارك عمر په پاته اته کلونو کې ئې تر یوې زیاتي مېرمني درلودې؛ په دوی کې یوازي عائشه ئې پېغله وه؛ نوري ټولې کونډې او ځیني ئې عمر خوړلې او د اولاد خاوندي؛ د دې معنی دا ده چي د رسول الله صلی الله علیه و سلم د تعدد ازواج فلسفه او موخه اجتماعي مصلحتونه او حکمتونه وو؛ نه جنسي عوامل؛ د ام سلمه رضي الله عنها نکاح ئې یو مثال دئ:

ام سلمه رضی الله عنها چي ٦ اولادونه ئې درلودل، مېړه ئې د احد په جګړې کې زخمي شو، د بلي جګړې په دوران کې د ده زوړ پرهر وشلېدو او له همدې وفات شو، پیغمبر علیه السلام د ده په مړیني هومره خواشینی شو چي اوښکي ئې توی شوې، د ده له مړیني څه باندي ٤ میاشتي وروسته ئې؛ ام سلمې ته څوك د خطبې لپاره ولېږو، هغې خپل عذر داسي وړاندي کړ: زه عمر خوړلې یم، ډېر اولادونه لرم، نه غواړم ستا د اذیت باعث شم. خو پیغمبر علیه السلام غوښتل په دې نکاح سره مسلمانانو ته د خپلو دیني ورونو په نسبت د وفا او د کونډو او یتیمانو د پالني او روزنې؛ نه هېرېدونکې اسوه وړاندي کړي. ام سلمې ته ئې قناعت ورکړ او دا نکاح ترسره شوه.

اساساً په اسلام کې د تعدد ازواج فلسفه همدا ده؛ هدف ئې د یتیمانو او کونډو د ستونزي عادلانه او انساني حل دئ؛ نه د چا د جنسي شوق پوره کول، متأسفانه ځینو د عدالت د تأمین له دې جواز هم داسي څه جوړ کړي چي اسلام تر سختو پوښتنو لاندي راولي؛ که مخالفین وګوري چي وزیران، والیان، قومندانان، شیخان، مفتیان، امامان، قاچاقچیان، د زمکو او کانونو غاصبان او

د نظام نور مشران او واكمنان... څلور څلور ښځي کوي، هري يوې ته بېله بېله بنگله جوړوي، په ودونو او مېلمستياوو کې بې دريغه او له اسراف او تبذير ډك مصارف کوي، په ودونو کې حکومتي زره ليندۍکروزري او حتی هيليکوپټري کاروي؛ خو بل لوري ته کونډې لا د خپل ميراث او مهر تر لاسه کولو او د خپلي خوښي مېړه له غوره کولو محرومي دي، د ملت ۷۰-۸۰ سلنه لا د فقر تر کرښي لاندي او له سختو مالي کړاوونو سره مخ دي؛ ... نو دښمنان به دا ټول اسلام ته منسوبوي او په دې سره به غواړي خپله هغه ستره ستونزه پای ته ورسوي چي د اسلامي امت له ويښتابه او د اسلامي نهضت له سريع پراخېدا ورته راولاړه شوې، د مسلمانانو په لاس د شوروي ماتي او زوال او ورپسې د امريکا تر مشرۍ لاندي د ناټو ماتي د امت او نړۍ ځوان نسل اسلام ته متمايل کړی؛ د دې خوځښت د مخنيوي تر ټولو آسانه او کم مصرفه لار دا گڼي چي د اسلام په نامه داسي ډله د اقتدار پر کرسۍ کښېنوي چي د اسلام د بدنامولو باعث شي.

## د عائشې رضي الله عنها خلاف د تورونو او تبليغاتو وجوهات

په حقيقت کې د عائشې رضي الله عنها لوړ شخصيت او د دعوت په چارو کې د هغې ځلانده او بې سارې ونډه؛ د دې باعث شوې چي تر نن پوري کورني او بهرني دښمنان د هغې په ضد زهرجن او دروغجن تبليغات وکړي.

له عائشې رضي الله عنها تر ۲۲۱۰ زيات حديثونه روايت شوي؛ چي ۳۱۶ ئې په بخاري او مسلم کې راغلي؛ د بخاري د ټولو اصلي رواياتو شمېر هم نژدې ۲۲۲۵ دئ. ونډه ئې د ديني احکامو او د رسول الله صلی الله عليه و سلم د احاديثو په انتقال او تبليغ کې دومره ستره وه چي حاکم په خپل کتاب المستدرك کې ويلي:«إِنَّ رُبْعَ أَحْكَامَ الشَّرِيعَةِ نُقِلَت عَن السَّيِّدَة عَائِشَة: د شرعي احکامو څلورمه برخه له عائشې نقل شوې»؛ مشرانو صحابه وو به د هغو قضاياوو په اړه له دې پوښتنه کوله چي له مشکل سره به مخامخ شول؛ أبو موسی أشعري وايي: «مَا أُشكلَ عَلَيْنَا أَصْحَاب رَسُوْلِ الله صلی الله عليه و سلم حَدِيثٌ قَطُّ فَسَأَلْنَا عَائِشَةَ؛ إِلَّا وَجَدْنَا عِنْدَهَا مِنْهُ عِلْمًا: پر موږ اصحابو؛ د هيڅ حديث فهم ستونزمن شوی نه دئ؛ چي له کبله مو له عائشې پوښتنه کړې

او له دې سره مو د هغه علم موندلی». او د فصاحت او بلاغت له پلوه داسي وه چي أحنف بن قيس وايي:

«سَمِعْتُ خُطْبَةَ أَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ ، وَعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ ، وَعُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، وَعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُم وَالْخُلَفَاءِ هَلُمَّ جَرًّا إِلَى يَوْمِي هَذَا، فَمَا سَمِعْتُ الْكَلامَ مِنْ فَمِ مَخْلُوقٍ، أَفْخَمَ، وَلا أَحْسَنَ مِنْهُ مِنْ فِي عَائِشَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهَا:

د ابوبکر صديق، عُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ، عُثْمَانَ بْنِ عَفَّانَ، عَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رضي الله عنهم او تر نن پوري مي د نورو خُلَفَاءو ويناوي اورېدلې؛ خو د هيڅ مخلوق له خولې مي د عائشې تر وينا زياته درنه او غوره وينا نه ده اورېدلې». احنف بن قيس د درايت او فهم له پلوه دومره ستر تابعي وو چي په خپل دور کي نوميالی او مثالي شخصيت گڼل کېدو.

دې ته بايد متوجه وو چي فصاحت او بلاغت هغه الهي نعمت دئ چي الله تعالی ئې له علم، درايت، فِراست، اخلاص او صدق سره يو ځای؛ خپل بنده ته ورپه برخه کوي.

له عائشې سره دښمني؛ د هغې په ضد تورونه او ناروا تبليغات؛ د دې د ستر مقام او منزلت له کبله وو. دښمنان؛ که کوړني وو او که بهرني؛ پوهېدل چي که دا ستر او لوړ ځلی وران کړي نو د اسلام کلا پرې ورانېږي. له عائشې رضي الله عنها سره هم د عراق او کوفې د واکمنو پلويانو جدي مخالفت درلود او هم د شام د واکمنو پلويانو؛ هغه نه د معاويه له امارت سره موافقه وه او نه د يزيد؛ له علي رضي الله عنه سره ئې اختلاف په دې کي وو چي ولې ئې د عثمان رضي الله عنه قاتلان محاکمه او مجازات نه کړل او ولې له هغوی سره کوفې ته ولاړ؛ او له امويانو سره ئې اختلاف پر دې وو چي امارت ئې د څلورو خلفاءو په څېر د مسلمانانو په خوښه او د هغوی د بيعت په نتيجه کي نه وو رامنځته شوی او له خلافت ئې موروثي ملوکيت جوړ کړ.

دعاء کوو چي الله تعالی هغه ورځ راولي چي اسلامي امت د رواياتو داسي واحد او متفق عليه کتاب ولري چي ټول روايات ئې هم د محتوی او متن له پلوه او هم د إسنادو له پلوه صحيح وي او د قرآن له لارښوونو سره

موافق؛ همداسي لکه چي نن يو مصحف لرو؛ په يوه لفظ کي ئې هم په خپلو کي اختلاف نه لرو؛ خو دا کار يوازي هغه مهال ممکن دئ چي د امت قيادت د مؤمن، اسلام ته ژمن، په دين پوه، صادق او مخلص زعيم لاس کي وي؛ يقيناً چي امت د عثمان رضي الله عنه په څېر زعيم ته ضرورت لري؛ چي د حديث په اړه همغه کار وکړي چي ده د مصحف په اړه وکړ. د هغي ورځي رارسېدو په هيله.

وَٱلسَّلَامُ عَلَىٰ مَنِ ٱتَّبَعَ ٱلْهُدَىٰٓ

او سلام پر هغه چي د هدايت تابع شوي

حکمتيار